USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# ډیموکراسي او حکومتداري

جون ۲۰۱۱




Photo: USAID/Afghanistan

د معلوماتي کمپاين له لارې، *USAID* عامه پوهاوی او د اساسي قانون حقوق او د عدالت رسمي سیستم پیاوړی کوي

## شالید

د طالبانو د راپرزیدو له کلونو راهیسې، افغانستان یو نوی اساسي قانون جوړ کړی او د جمهوري ریاست، پارلماني او ولایتي شوراګانو ټاکنې ترسره کړیدي. افغان دولت پر دې متمرکز دی تر څو خپل ظرفیتونه لوړ کړي او هیوادوالو ته اساسي خدمتونه ترسره کړي: او په ټولو برخو کې یوه موثره، حساب ورکوونکې او شفافه اداره رامنځ ته کړي او داسې ښه والی راولي تر څو فساد سره مبارزه، د عدالت ساتنه او د قانون د پلي کولو لپاره لاره هواره شي.

## د خپروني تصویر

د USAID د ډیموکراسی او حکومتدارۍ د پروژې دفتر له هغو پروسو نه ملاتړ کوي چې خلک په ملي او سیمه ایزه سطح کې په کې شامل وي. پروژې د حساب ورکوونکې او شفافه حکومتدارۍ نه ملاتړ کوي تر څو ملي وحدت تشویق شي او د افغانانو اړتیاوې پوره شي. د USAID اداره د کلیدي بنسټونو ظرفیتونه لوړوي لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ملي شورا، ستره محکمه او د وزارتونو بنسټونه چې د اجراییه قوې په برخه کې دي لکه د محلي حکومتدارۍ خپلواک ریاست او د ملکي خدمتونو کمیسیون. دغه راز USAID د افغانستان د مدني ټولنې موسساتو ته زده کړه ورکوي څو د ټولنې په رهبرۍ د اصلاحاتو نه دفاع وکړي.

## د قانون حاکمیت او فساد سره مبارزه

د USAID د قانون حاکمیت پروژه درې اصلي عناصر لري: د قضاییه قوې او د حقوقو او شرعیاتو د فاکولتو د ظرفیتونو لوړول، د قضاییه قوې د عامه پراختیا د پروګرام پیاوړتیا، او د شخړو د حل عنعنوي میکانیزمونو څخه ملاتړ چې د رسمي او غیر رسمي قضایي سیستمونو تر منځ اړیکي پیاوړي کوي. د فساد مسایل د یو لړ مشخصو پروژو په واسطه حلیږي لکه د نظارت په عالي اداره کې د ظرفیتونو لوړول او د هغوي د فعالیتونو څخه ملاتړ چې د اخلاقیاتو د زده کړې په واسطه چې بیلابیلو فعالینو ته ورکول کیږي لکه ملکي مامورین او قضاییه قوه او د فساد سره د مبارزې د قانون او مقرراتو د پلي کولو نه ملاتړ.

د نوي پروژې یو مرکزي برخه داده چې د شخړو د حل عنعنوي میکانیزم څخه ملاتړ کوي: د افغاني ټولنې د رهبرانو زده کړه د افغانستان قانون په هکله، او د شریعت او انساني حقوقو په اړه، د ټولنیزو اعمالو لپاره د بدیلونو تشویق څکه چې هغوي ښځو او ماشومانو ته ضرر رسوي، او د هغو اړیکو پیاوړتیا چې دولتي کسان له غیر رسمي سیستمونو سره نښلوي. دغه راز، دغه پروګرام له سترې محکمې نه د زده کړو په ورکولو ملاتړ کوي او د محاکمو ظرفیت لوړوي تر څو ښه مدیریت شي او ښې بودیجې ولري.

## حکومتداري

د متحده ایالاتو د حکومت موخه داده تر څو په افغانستان کې یو قوي، حساب ورکوونکی او موثر حکومت رایج کړي چې افغانانو ته خدمت کوي او بالاخره کولای شي چې په لږه نړیواله مرسته فعالیت وکړي. تاکید پر دې دی چې هغه اصلاحات راوړل شي چې فوراً قابل تطبیق وي چې کولای شي په لږه موده کې د لید وړ او موثر بدلون رامنځ ته کړي په داسې حال کې چې د ظرفیت جوړونې پروګرامونه تطبیقیږي او زده کړې ورکول کیږي تر څو په اوږد مهال کې یو منظم او پایدار پیشرفت رامنځته شي.

د حکومتدارۍ تمرکز په څو ساحو کې ده لکه د ظرفیت جوړونې مرسته او د حکومت ملي، ولایتي، ولسوالۍ او ښاري ادارو ته منابع برابرول، ملکي خدمتونو ته د اصلاحاتو او زده کړې میکانیزمونه، په ولایتي سطح د عملیاتي بودیجې پرانیستل، افغان پارلمان ته تخنیکي مرسته، ټولنیزو شورا ګانو ته د ولسوالۍ په سطح ملاتړ، او ټاکل شویو چارواکو او د مدني ټولنې ډلو ته مرسته تر څو خلک با خبره کړي، د هغوي لومړیتوبونو ته ځواب ورکړي او خدمات عرضه کړي.

## ټاکنې او سیاسي رقابت

په ملي، ولایتي او ولسوالۍ سطح کې شفافه، رقابتي او با اعتباره ټاکنې د یو ډیموکراتیک سیستم له مهمو عناصرو څخه دي. USAID د ټاکنې بنسټونو لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون

### د ډیموکراسۍ او حکومتدارۍ خلاصه

- ظرفیت جوړونه تر څو اداري طرزالعمل بهتر شي، د ملکي خدمتونو مسلکي کسانو ته کار ورکول شي، او د خدماتو عرضه ښه شي
- د قاضیانو زده کړه او د سترې محکمې پیاوړتیا څو خپل قضیې په شفاف او موثر ډول سره تنظیم کړي
- د ملي شورا نه ملاتړ تر څو پر بودجې او قانوني پروسو ښه نظارت وکړي
- د ښاروالۍ ګانو د خدماتو د عرضې کیفیت لوړول د کثافاتو په راټولولو، د لارو په ساتنه او د اوبو په توزیع کې
- د مدني ټولنې زده کړه او محلي غیر حکومتي موسساتو ته مالي مرسته
- محلي راډیو ګانو ته مالي مرسته او ژورنالیستانو ته زده کړه

معلومات د ۲۰۱۱ جون څخه

USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# ډیموکراسي او حکومتداري (ادامه)



Photo: USAID/Afghanistan

*USAID* قاضیانو ته د حقوقي مبناو به اړه زده کړه ورکوي.



Photo: USAID/Afghanistan

*USAID ښاروالۍ ګانو نه ملاتړ کوي او د ښاري کارونو پروګرام له لارې کار فرصتونه زیاتوي.*

## مدني ټولنه او خپلواکه رسنۍ

USAID د یوې پیاوړې مدني ټولنې پراختیا څخه ملاتړ کوي څو افغانانو سره مرسته وکړي چې په سیاسي پروسو کې فعاله ونډه واخلي، ټولنیزې ستونزې حل کړي او د ښې حکومتدارۍ لپاره مدافعه وکاندي. په پروګرامونو کې شامل کارونه دادي: د هغو قوانینو ښه والی چې غیردولتي موسسې تنظیموي، د مدني ټولنې د حساب ورکولو زیاتوالی، ظرفیت جوړونه او د شبکو جوړول د ډیموکراتیکو پروسو لپاره او د ښاریانو انسجام او د پالیسیو شمولیت.

USAID په افغانستان کې د رسنیو د سکتور د ودې نه ملاتړ کوي تر څو د معلوماتو او نظریاتو د آزادې تبادلې زمینه برابره شي ځکه چې دا ډیموکراسي ته خورا زیاته اړینه ده. USAID نشراتي رسنیو سره تخنیکي مرستې کوي، هغوي ته نوي وسایل برابروي، د دقیق رپوټ ورکولو په موخه زده کړې ورکوي، د افغاني رسنیو پالیسی/قانوني چوکاټ څخه ملاتړ کوي څو رسنۍ معیاري شي، د هغوي ودې او پایدارۍ نه ملاتړ کوي او محلي او انفرادي غړونه تقویه کوي.

هغو فعالیتونو ته چې د جنسیت مساوات او د ښځو ټولنیز او سیاسي مشرتوب ته وده ورکوي هغه لومړیتوبونه دي چې د مدني ټولنې، حکومتدارۍ، د قانون حاکمیت او د سیاسي پروسو د خپرونو عناصر دي.


د تماس معلومات

کابل/USAID
د کابل ځای ۶۱۸۰
Dulles, VA 20189-6180
(202) 216-6288x4454
0093 (0) 799-794-674
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov



On behalf of the American people, the U.S. government has provided humanitarian assistance and economic development to those in need around the world since the Marshall Plan.